هیواد
ورځپاڼه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
سه‌شنبه د ذوالقعدة الحرام ۱۰ مه ۱۴۴۴ ق کال | د غبرگولي ۹ مه ۱۴۰۲ ل کال | د مې ۳۰ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي گڼه ۵۰ مه | پرله‌پسې گڼه ۱۴۰ مه ، اتمه‌دوره

## د اردغان د بریا په تړاو د اسلامي امارت د رئیس الوزراء د مبارکۍ پیغام



د افغانستان د اسلامي امارت د رئیس الوزراء الحاج ملا محمد حسن اخند د مبارکۍ پیغام:
ښاغلی جلالتمآب رجب طیب اردغان ته د ترکیې د انتخاباتو په دوهم پړاو کې د بریا او د ترکیې د منتخب ولسمشر په توگه د بیا انتخابېدو مبارکي وایم، له الله جل جلاله څخه هیله لرم، چې د ترکیې هیواد ته ،چې په سیمه او نړۍ کې ځانگړې اهمیت لري لا قوت، ثبات او د دین خدمت ور په برخه کړي.
د افغانستان او ترکیې د ولسونو ورورگلوي او دوستي دې همېشه او دوامداره وي.

### د شینوارو قومي مشران له مولوي عبدالکبیر سره په کتنه کې:

# په اچین ولسوالۍ کې دې پراختیایي پروژې پلې شي

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال



او کفیل مولوي عبدالکبیر ورمه ورځ د ننگرهار د شینوارو له یو شمېر قومي مخورو او استازو سره په کتنه کې وویل، چې د اسلامي امارت ټول مسئولین د ولس د خدمت لپاره گمارل شوي دي.ارگ په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د دې کتنې پیل کې راغلو مشرانو د سیاسي معاونیت زیار او هڅو ته په اشارې وویل، چې تل یې د ولسونو غږ اورېدلی او خلکو په ډاډه سر د خپل زړه درد ورسره شریک کړی دی.
دوی د ننگرهار په اچین ولسوالۍ کې د ولسونو د روغتیایي ستونزو د حل په موخه د ولسوالۍ په کچه د یو روغتون د جوړېدو او د نورو پراختیایي چارو د ترسره کولو غوښتنه‌وکړه.
ورته مهال د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال او کفیل یادو قومي مشرانو ته ډاډ ورکړ، چې د ټولو دولتي ادارو دروازې د ولس پر مخ پرانیستې دي او ټول مسئولین د ولس د خدمت لپاره گمارل شوي دي.مولوي عبدالکبیر زیاته کړه، د ملت او اسلامي امارت ترمنځ باید واټن نه‌وي، ترڅو خلک هر وخت خپلې ستونزې ورسره‌شریکې کړای شي.ده وویل: د شینوارو ولسونو د روغتیایي ستونزو د حل لپاره به اړوندو ادارو ته لازمي سپارښتنې وکړي.

### ډاکتر عبدالباري عمر:

# په کندهار کې د درملو د کیفیت معلومولو لابراتوار جوړېږي

د خوړو او درملو د ملي ادارې مشر ډاکتر عبدالباري عمر کندهار ته په خپل سفر کې ځایي چارواکو ته ویلي: په دې ولایت کې د درملو دکیفیت معلومولو لابراتوار د پنځه اعشاریه دوه میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت جوړېږي.ده ویلي: ډېر ژر به د کندهار تر څنگ د هرات، بلخ او ننگرهار ولایتونو کې هم د درملو د کیفیت معلومولو لابراتوارونه جوړ شي.اخوا د کندهار والي ملا محمد شېرین آخوند ویلي: دا ټولو سوداگرو اسلامي او ملي فریضه ده، چې هیواد ته کیفیت لرونکي خواړه او درمل راوارد کړي.له مسئولینو غوښتنه وکړه، چې سوداگرو ته په گمرکاتو کې لا زیاتې آسانتیاوې برابرې کړي او هم یې د ولایتي ادارې په استازیتوب د هر ډول همکاریو ډاډ ورکړ.



## ۷۵۰۰ جریب زمین کشت کوکنار محو گردید

مسئولین امنیتی تخار می‌گویند، که طی یک ماه اخیر ۷۵۰۰ جریب زمین را در این ولایت از وجود کوکنار پاکسازی کرده‌اند.
عبدالمبین صافی، سخنگوی پولیس تخار، روز دوشنبه ۸ جوزا به رسانه ها گفت: طی ۳۱ روز گذشته، پولیس مبارزه با مواد مخدر فرماندهی امنیه تخار، ۷۵۰۰ جریب زمین را در مرکز و ۱۶ ولسوالی این ولایت از وجود کشت کوکنار پاکسازی کرده است.به گفته‌ی او، هنوز نیز ۱۰ هزار جریب زمین در ولسوالی‌های فرخار، کلفگان و رستاق این ولایت تحت کشت کوکنار باقی مانده‌اند که به زودی توسط نیروهای مبارزه با مواد مخدر از بینبرده خواهد شد.سخنگوی... ص۵

# په خوست کې خلک د نرخونو پر کنټرول خوښ دي

په خوست کې یو ځل بیا د ښاروالۍ په چوکاټ کې د نرخونو د کنټرول لپاره د جوړ شوي کمېسیون له لوري د خوراکي او غیر خوراکي توکو لپاره نوي بیې ټاکل شوې، چې د دغو سیمو اوسېدونکي ترې خوښي څرگندوي.ښاریان وایي: په دې وروستیو کې د بېوزلۍ کچې لوړېدو ته په کتو دا غوره اقدام شوی او له خوست ښاروالۍ غوښتنه کوي ،چې د نرخونو کنټرول دې جاري وساتي.د خوست دوه تنه اوسېدونکي عبدالقدیر او شبیر رحمان وایي: له دکانداران باید د ښاروالۍ پرېکړه عملي کړي او په وینا یې: که دوکانداران توکي قیمته خرچ کړي، دوی به ښاوراولي په جریان کې کړي:
(( دکاندارانو نه مو دا غوښتنه ده چې تاسې توکي مناسب خرڅ کړئ، که دوی توکي قیمته خرڅ کړي مور ښاروالۍ ته ځو او عریضه پرې کوو ،چې پر مور یې توکي غیر مناسب خرڅ کړي دي.)) (( دا د عوامو لپاره د خیر خبره ده او دکانداران دې هم داسې نه کوي، چې یو ته په یو او بل ته په بل قیمت توکي ورکړي، یا یو کس نابلده وي راشي او معلومات ورته نه وي، نو چې هغه ته یې په څو ورکړل.))بل پلو یو شمېر دکانداران د ښاروالۍ له لوري ټاکل شوې بیې د ځان په تاوان بولي او وایي، د ځینو توکو بیې د ورځې په جریان کې ۵مخ



## د آمو سیند د بېړنیو تحکیماتو چارې بشپړې شوې

په شمال کې د سیندیزې حوزې ریاست مسئولین وایي، چې د جوزجان په قرقین او خماب ولسوالیو کې د آمو سیند غاړې د بېړنیو تحکیماتو چارې بشپړې شوې. د شمال سیندیزې حوزې عمومي رئیس ویلي، چې د جوزجان په قرقین او خماب ولسوالیو کې د آمو سیند غاړو د بېړنیو تحکیماتو چارې د نږدې ۱۵ میلیونو افغانیو په لگښت د ۳ میاشتو په موده کې بشپړې شوې. ده زیاته کړې،... ۵مخ



# د ملخانو یرغل او سېلابونو کښتونو ته زیان اړولی

د کرنې او مالدارۍ خونه وایي، چې په روان لمریز کال کې کروندگرو ته جدي زیانونه اوښتي دي.
د دې خونې مسئولین زیاتوي، چې په شمال کې د ملخانو یرغل او په ځینو سیمو کې سېلابونو د هیواد د کرنې برخه زیانمنه کړې ده. د کرنې او مالدارۍ خونې سرپرست میرویس حاجي زاده وایي: (( موږ د ملخ په نامه د یوه بل آفت شاهد هم یو ،چې د هیواد په شمال کې زموږ د بزگرو څه باندې زر جریبه ځمکه یې له منځه وړې ده. که چېرې د دې مخه ونه نیول شي، زموږ له بزگرو سره مرسته ونه شي، زموږ بزگر زیانمن کېږي. زموږ د بزگر کمزوري کېدل زموږ د ملت کمزوري کېدل دي.))پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت وایي، چې په کاپیسا، میدان وردگو، تخار، بدخشان، غور، کندهار، کونړ، نورستان، خوست، دایکندي او ننگرهار ولایتونو کې وروستیو سېلابونو ۵مخ



## په کاپیسا کې ۱۴۷۸ جریبه ځمکه دولتي تثبیت شوه

د عدلیې وزارت وایي، چې د کاپیسا د ځمکو د غصب د مخنیوي او بېرته راگرځولو تخنیکي پلاوي د تېرو دریو ورځو په ترڅ کې د دغه ولایت په مرکز کې ۱۴۷۸ جریبه ځمکه دولتي تثبیت او د استرداد لپاره آماده کړه.
دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په کاپیسا کې د ځمکو د غصب مخنیوي او بېرته راگرځولو تخنیکي پلاوي د یاد ولایت د مرکز په دروازه گۍ سیمه کې ۱۴۷۸ جریبه دولتي ځمکه تثبیت او استرداد لپاره آماده کړه.
خبرپاڼه کې راغلي، چې یاده سیمه د ۱۰۱ کسانو له خوا غصب شوې او په کې انگړونه، بڼونه او یو څه کرنیزې ځمکې جوړې شوي او یوه لړه برخه یې سپینه پاتې ده. د خبرپاڼې له مخې؛ یاد پلاوي د دغې سیمې له متصرفینو څخه سندونه وغوښتل، چې د هغوی یو شمېر سندونه وړاندې نه شوای کړلی او یو شمېر نورو کسانو بیا دغه ځمکه دولتي وبلله.

# د قزاقستان د تحصیلي بورسونو لپاره آزموینه واخیستل شوه

د قزاقستان هېواد د لېسانس تحصیلي بورسونو لپاره آزموینه د لوړو زده کړو وزارت د سرپرست مولوي نداء محمد ندیم او د دغه وزارت د بهرنیو اړیکو د بورسونو د تنظیم د رئیس ډاکټر نظرمحمد عرفان په شتون کې واخیستل شوه.د لوړو زده کړو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د یادې آزموینې د پیل په مراسمو کې د لوړو زده کړو وزارت سرپرست مولوي نداء محمد ندیم د محصلینو لپاره په بېلابېلو برخو کې د تحصیلي بورسونو په ورکړې د قزاقستان هیواد د نیکو اړیکو د قدردانۍ ترڅنگ، د دې آزموینې له گډونوالو وغوښتل، چې د اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نیولو سره د علم او پوهې په ترلاسه کولو کې په خپل ټول توان سره هڅه وکړي، څو په راتلونکي کې د ټولنې د خدمت مصدر وگرځي.
ورپسې د لوړو زده کړو وزارت د بهرنیو اړیکو د بورسونو د تنظیم رئیس ډاکټر نظرمحمد عرفان خبرې وکړې او نوماندانو ته یې د آزموینې بهیر د شفافیت په اړه ډاډ ورکړ.په دغې آزموینه کې ۲۲۳ تنو گډون کړی و، چې له جملې څخه به یې ۱۶ تنه په یاده برخه کې بریالي شي.د یادونې وړ ده، چې د قزاقستان هیواد د لېسانس، ماسټرۍ او دوکتورا په برخو کې د افغان محصلینو لپاره ۳۰ تحصیلي بورسونه ځانگړي کړي وو.



# آداب مجلس و قربانی


نویسنده: مولوی محمد نعیم عادل

ترجمه: وحید الله عمر المدنی


**آداب مجلس:**

برای هر چیزی زیبایی و زینت است و زیبایی مجلس در ادب آن است. بنابراین، مجالس بدون ادب فایده ای ندارد، به این منظور باید آداب و رسومی را که اسلام برای مجالس مشروع خوانده است، شناخته و محترم شمرده شود.

برخی از آداب مجلس به شرح زیر است:

-۱هر وقت کسی وارد مجلس شد، ابتدا سلام کند.

-۲ هرکس وارد جلسه می شود باید از اعضای جلسه اجازه بگیرد. اگر اجازه داد وارد مجلس شود و اگر اجازه نداد باید وارد مجلس نشود.

-۳وقتی شخصی وارد مجلس می شود، شرکت کنندگان در مجلس باید مجلس را گسترش دهند، یعنی جایی برای نشستن شخص دیگری بیابند و این هم دستور الهی است.

٤. اسرار و راز های مجلس فاش نشود، زیرا مجلس امانت است همچنان که بیان نبوی است.

-۵باید به همه فرصت داد تا در جلسات صحبت کنند و بقیه به حرف او گوش دهند.

-٦در مجامع عمومی نباید بین افراد، دو نفر یا سه نفر گفتگوی مخفیانه صورت گیرد، زیرا این کار نیز خلاف اجتماع است، بنابراین سایر شرکت کنندگان نیز مشکوک خواهند شد که چیزی در ما وجود دارد.

-۷هرگاه مجلس تمام شد، دعا های مجلس و درود شریف را بخواند، زیرا این کفاره مجلس است.

-۸ در مجالس غیبت و تهمت نگوید و از گفتن همه سخنان بد خود داری شود.

-۹در جماعت از اعمال خلاف شرع خود داری شود.

- -۱۰وقتیکه یک نفراز مجلس خارج میشود از نشستن در جای آن خود داری شود.

-۱۱ شرکت کنندگان تا اتمام جلسه درمجلس حضور یافته و بی ضرورت از مجلس خارج نشوند.

-۱۲ هر مجلس باید رهبری داشته باشد که بر اشتراک کننده گان نظارت کند و از بررسی موضوعات مختلف جلوگیری کند تا اشتراک کنند گان در موضوعات مورد نظر باهم گفتگو کند.

-۱۳ نشستن در مجلس مؤدبانه باشد، از دراز کردن پاها خود داری شود، ولی اگر کدام بزرگ سال بود و یا اگر حاجتی بود، ایرادی ندارد.

-۱٤. در مجلس از صحبت های بیهوده و خنده های بی مورد خود داری شود.

-۱۵ تا زمانی که به کسی اجازه صحبت داده نشود، تا آن وقت باید خاموش باشد.

-۱٦ اگر کسی صحبت می کند، باید در جریان صحبت او مداخله نشود.

-۱۷ در مجلس صدای معتدلی باشد که نه زیاد بلند باشد و نه زیاد کم.

-۱۸ در مجلس توهین به افراد دیگر نباشد و مزاحم کسی نباشد.

-۱۹ هنگام ورود به مجلس، شخص دیگری را با لا نکند در جای اود بنشیند. و اگر کدام شخص بزرگوار وارد مجلس شود به احترام او استیاده شدن وجای دادن باکی ندارد.

-۲۰ از خوابیدن در مجلس خود داری شود.

آداب قربانی: قربانی یکی از شعایر اسلام است. هر بنده ای که قدرت قربانی کردن را دارد باید قربانی کند. برای قربانی کردن آداب خاصی وجود دارد که باید کاملاً رعایت شود تا قربانی کننده بتواند از پاداش کامل برخوردار شود.

نکته: اگر حیوانی در زمان دیگری به جز حیوان عید یا قربانی ذبح شود، باید آداب زیر نیز رعایت شود.

برخی از آداب قربانی به شرح زیر است:

-۱ در وقت ذبح کردن فقط بسم الله و تکبیر گوید.

-۲ در وقت ذبح کردن دعا قربانی خوانده شود.

-۳ عمل سنت این است که درهنگام ذبح، قربانی را رو به قبله و به پهلوخوابانده شود.

-٤ وسیله ای که قربانی با آن ذبح می شود باید طوری باشد که حیوان زیاد رنج نبیند یعنی تیزوبرنده باشد

-۵ وسیله ای که حیوان با آن ذبح می شود باید در زمان ذبح از حیوان پنهان باشد.

-٦ حیوانی را نباید جلوی حیوان دیگر ذبح کرد.

-۷ وقتی ذبح کردن حیوان مواد فضوله او را در اماکن عمومی و جاده های مردم انداخته نشود.تا مردم از آن آزار و اذیت نبیند و از مرض های ساری در امان باشد

-۸ قربانی باید فقط برای خداوند (ج) باشد، اگر نیت گوشت باشد، قربانی صحیح نیست.

-۹ قربانی باید عاری از هرگونه نقص باشد.

-۱۰ قربانی حیوانی باشد که گوشت زیاد داشته باشد تا فقرا از آن بیشتر بگیرند.

-۱۱ در قربانی گوسفند برای یک نفر و شتر و شتر ماده و گاو و گاو ماده و گومیش برای هفت نفر صحیح است و هیچ یک از آنها قصد گوشت را نداشته باشند.

-۱۲ زمان انجام قربانی از دهم ذی الحجه تا دیگر دوازدهم ذی الحجه است.

-۱۳ برای مسلمان شایسته است که قربانی خود را در صورت توان با دست خود حلال کند و اگر قادر به انجام آن نیست، باید کسی دیگر آن را برای او انجام دهد.

-۱٤ اگر قصاب یا کارگری را برای قربانی اجیر کند، دادن پوست و پشم و گوشت قربانی به عنوان مزد جایز نیست، مزد او را باید جداگانه اداء کرد.

-۱۵ قربانی باید ملکیت قربانی کننده باشد، یعنی مالک کامل آن باشد، دزدی، غصب و امانت نباشد.

-۱٦ بهترین کار این است که قربانی کننده از اول ماه ذی الحجه تا زمان ذبح قربانی موهای بدن و ناخن های خود را کوتاه نکند.

-۱۷قربانی باید با وسایل مانند چاقو، سنگ تیز یا وسایل ذبح کننده ذبح شود. قربانی برق گرفتگی یا تیراندازی یا افتادن از بلندی معتبر نیست.

-۱۸ حیوان قربانی را باید مدتی قبل از ذبح خریداری کرد تا بین حیوان و صاحبش محبت باشد، سپس هر وقت قربانی کرد ثواب دارد.

-۱۹ قرباني را باید خیلي خوب به محل ذبح برد، نباید روی سینه کشید، با چوب و چیز دیگر بزنند.

-۲۰ ذبح کردن قربانی باید توسط مسلمان اجرا شود ، ذبح مشرک و مجوس صحیح نیست.

## سرلیکنه

## نړۍ دې د افغانستان له ثبات او پرمختگ څخه وېره نه لري!

اوس چې د افغانستان خلوېښت کلنه غمیزه پای ته رسېدلې، ارضي تمامیت بشپړ شوی، د هیواد د تجزیې پلان او تصور له منځه تللی، د پردیو لاسونه لنډ، د سیمې او نړۍ په کچه دافغانستان پر ضد طویل المدت پلانونه او ژورې دسیسې په نطفه کې خنثی، د افغانستان پټو او ښکاره طبیعي زیرمو ته د حریصانو سترگې له خاورو ډکې، د قومي، ژبنیو او مذهبي اختلافاتو او تعصبونو پر اور اوبه تویې او بالاخره د هیواد امن او استقلال بې مثیله او بې مثاله ویاړونه شول .

خو چې غمازان ولې زموږ پر هیواد دغه لورینې نشي زغملی او په ډېره سپین سترگۍ له حقایقو سترگې پټوي، د خپلو له لاسه ورکړو اغراضو د جبران لپاره بې اساسه تورونو ته د هوا ورکولو هڅه کوي ؟!!

هره ورځ د بېلابېلو سازمانونو او بنسټونو له لوري داسې له حقیقته لرې ادعاوې کېږي، چې هېڅکله یې د اثبات جرئت نشي کېدای؛ د دغه ډول تورونو او ادعاوو په مطرح کولو سره استکباري قوتونه غواړي چې سیمې او نړۍ ته د افغانستان د وضعیت ناسم او د واقعیتونو خلاف انځور وړاندې کړي.

د افغانستان اوسنی ځواکمن او مرکزي دولت د هیواد جوړونې او دایمي ثبات لپاره په چټکۍ سره کار کوي، د سیمې او نړۍ هیوادونه باید نه یوازې د افغانستان له ثبات او پرمختگ څخه ویره ونه لري، بلکې د لته ثبات او اقتصادي وده د دوی په گټه هم ده. د افغانستان مناسب جغرافیوي موقعیت او پراخې طبیعي زیرمې هغه څه دي، چې د سیمې د هیوادونو د اقتصادي ودې لپاره خورا مهم گڼل کېږي.

د سیمې هیوادونه دې، د بې ځایه تورونو، غوښتنو او فشارونو پر ځای له اسلامي امارت سره همکاري وکړي، چې افغانستان دایمي ثبات ته ورسېږي او له دې لارې دې خپلې گټې خوندي کړي. د افغانستان ثبات او پرمختگ نه، بلکې بې ثباتي او ویجاړي د سیمې او نړۍ په زیان ده.

## د شخړو په حل کې د محلي جرگو ونډه

قومي جرگې د سیمه‌ییزو شخړو او ستونزو د حل له عامو لارو څخه گڼل کېږي چې د مشرانو او قومي مخورو کسانو له لوري جوړېږي.د نیمروز ولایت یو شمېر اوسېدونکي د ناخوالو په مخنیوي او د خلکو تر منځ د اوږدې دښمنۍ په ختمولو کې د دغو جرگو رول مهم بولي.خو دا چې آیا رېښتیا هم خلک قومي جرگې د شخړو د هوارې په برخه کې مهمې گڼي او که نه؟

دا پوښتنه مو له یو داسې چا کړې، چې په دې وروستیو کې یې خپله شخړه د قومي جرگې له لارې حل کړې ده.

نوموړی احمد نومېږي او خپل جریان په دې ډول بیانوي: (( موږ له یو بل چا سره د ځمکې پر سر شخړه درلوده، هر کال به مو جگړه کوله، فکر به مو کاوه ،چې حل به نه شي، خو له نېکه مرغه چې د قومي شورا له لوري مو د ځو کلونو ستونزه هواره شوه.))

د همدې هوارې شوې شخړې بل لوری محمود وایي، د ځمکې پر سر جنجال یې کلونه اوږد شوی و،خو بلاخره د قومي جرگې له لارې حل شو.

« له تېرو دوو کلونو راهیسې پر دې ځمکو زموږ شخړې بیا تازه شوې وې، نږدې و، چې قتل ته په



کې ورسېږو، کله مو چې قومي جرگو ته مراجعه وکړه، نو زموږ ستونزه یې د شرعي دلایلو په رڼا کې حل کړه؛ هم پرې زموږ قناعت وشو او هم د یوې جگړې مخه ونیول شوه.))

یو شمېر شنونکي بیا قومي جرگې د شخړو په هوارۍ کې مهمې بولي او زیاتوي چې د هیواد په بېلابېلو برخو کې د خلکو ترمنځ د ستونزو هوارول د قومي مخورو او مشرانو مسئولیت دی او په دې برخه کې باید فعاله ونډه واخلي.

د ټولنیزو چارو شنونکی عبدالله هوشمند وایي: (( په نیمروز ولایت کې هم د نورو ولایتونو په څېر د خلکو ترمنځ اختلافات شته ،چې ځینې یې آن د د ښمنیو سبب شوي، داسې ستونزې هم وې، چې پخواني او اوسني حکومت یې په حل کې پاتې راغلی، خو د قومي جرگې له لارې حل شوې دي.))

یو شمېر قومي مخور بیا وایي ،چې قومي جرگې په افغانستان کې کلتوري ریښه لري او هغه کسان چې په دې جرگو کې برخه اخلي، نو باید د خلکو ستونزې په بې پرې ډول هوارې کړي.

قومي مشر حاجي عبدالبصیر وایي: (( په تېرو شلو کلونو کې د قومي جرگو له لارې گڼې ستونزې هوارې شوي، هغو خلکو چې د خپلو ستونزو د هوارې لپاره قومي جرگو ته مراجعه کړې، ښه پایله یې ترلاسه کړې.))

د قومي مخورو په خبره، دا جرگې ښې پایلې لري او آن په ځینو وختونو کې عدلي او قضایي ارگانونه هم یو شمېر مسئلې قومي جرگو ته راجع کوي.

# د اردغان بریا او واکمني به د ترکیې لپاره ګټوره وي

احمد راشد

په ترکیه کې د ۲۰۲۳ کال د مې په ۲۸ مه د ولسمشرۍ د دوهم پړاو ټاکنې ترسره شوې، په دغو انتخاباتو کې ولسمشر اردغان له شل کلنې دورې وروسته یو ځل بیا ګټونکی اعلام شو او د ولسمشرۍ واګې یې بیا په لاس کې واخیستل، له همدې امله لومړی محبوب ولسمشر اردغان، اوبیا د ترکیې مسلمه ملت او ټولې اسلامي نړۍ ته مبارکي وایم او په راتلونکو چارو کې ورته د لا بریالیتوب هیله کوم.

د ترکیې د تېرو دوو لسیزو واکمن ولسمشر رجب طیب اردغان د یکشنبه پر ورځ په ټولټاکنو کې بریالی شو، چې له همدې امله د نړۍ په کچه نوموړي ته د بریا مبارکۍ ورکړل شوې،د امریکا ولسمشر جو بایډن او د نړۍ ګڼو نورو مشرانو د ترکیې د ولسمشریزو ټاکنو دویم پړاو کې ولسمشر رجب طیب اردغان ته د بیا ولسمشر کېدو مبارکي ورکړې ده.ولسمشر بایډن پر ټویټر لیکلي: ((ترکي ولسمشر رجب طیب اردغان ته د بیا ولسمشر کېدو مبارکي وایم. په ناټو کې د یوه ملګري په توګه به د ګډو نړیوالو ګواښونو د مخنیوي په برخه کې له هغه سره کار ته دوام ورکوو.))

د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین هم اردغان ته مبارکي ورکړې



او لیکلي یې دي چې: ((په دې ټاکنو کې ستا بریا د ترکیې د ولسمشر په توګه ستا د کار پایله وه او دا یو ښکاره دلیل دی چې په خپلواک بهرني سیاست او د ځمکنۍ بشپړتیا په ساتلو کې د ترکیې ولس ستا ملاتړی دی.))

پر جو بایډن او پوتین سربېره، د برېتانیا لومړي وزیر ریشي سوناک، د جرمني صدراعظم اولاف شولتس، د سعودي عربستان پاچاه ملک سلمان، د برازیل ولسمشر لویس ایناسیو لولا ده سېلوا، د اوکراین ولسمشر ولودویمیر زیلېنسکي او ګڼو نورو نړیوالو مشرانو اردغان ته په ټاکنو کې د بریا مبارکي ورکړې ده.ریشي سوناک بیا پر ټویټر لیکلي: ((اردغان ته مبارکي وایم او زموږ د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ د دوام په تمه یم، چې په ناټو کې د یوه ملګري په توګه د امنیتي ننګونو ختمولو ته ګډ کار وکړو.))

د ناټو سرمنشي ینس ستولتېنبرګ هم په یوه ټویټ کې اردغان ته د مبارکۍ سربېره لیکلي: ((اردغان ته د بیا ولسمشر کېدو مبارکي وایم، په راتلونکي جولای کې د ناټو سرمشریزه کې له هغه سره د ګډ کار په تمه یم)) د مصر ولسمشر عبدالفتاح السیسي بیا اردغان ته د مبارکۍ پیغام استولی دی. په کور د ننه هم اردغان ته ګڼو سیاستوالو او مخکنیو نوماندانو مبارکۍ ورکړې دي.

د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون هم مبارکي ورکړه او ویلي یې دي، چې فرانسه او ترکیه له یو بل سره د مقابلې لپاره سترې ننګونې هم لري.

د ترکیې ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند او بیا له نوماندۍ تېر شوي محرم اینجه اردغان ته د بیا ولسمشر کېدو پر مبارکۍ سربېره هغه ته په کارونو کې د بریا هیله ښودلې ده.د ترکیې د خلق جمهوریپال متحد او د (ښې ګوند) مشر مرال اکشنر اردغان ته مبارکي ویلې ده.که څه هم اردغان په تېرو ټاکنو کې مخکښ و او له سرسخت سیال نوماند قلیچدار څخه یې ډېرې رایې ګټلې وې، خو اردغان د مې په ۱۴ مه د رای اچونې د لومړي پړاو، چې پارلماني ټاکنې هم په کې شاملې وې؛ د خپل ګوند او پلویانو پر بري ډاډمن و او آن زلزله ځپلیو ۱۱ ولایتونو د رایو په سر کې و، چې پارلماني ډېرکی یې هم ور په برخه کړ.

۶۹ کلن اردغان په استانبول کې له یوه بس څخه خپلو پلویانو ته په وینا کې ویلي: نن ترکیه یوازنۍ ګټونکې ده. زه له خپلو ټولو خلکو مننه کوم، چې یو ځل بیا یې موږ ته د پنځو کلونو لپاره د هېواد د حکومت کولو مسئولیت را په برخه کړ.، د اسلامپالو ریښو لرونکې د عدالت او پراختیا ګوند مشر اردغان له رای ورکوونکیو غوښتنه وکړه، چې د ژورو اقتصادي ستونزو څخه پام ځانته واړوي.

په دوهم پړاو ولسمشریزو ټاکنو کې رجب طیب اردغان (۵۲،۱۴) او کمال قلیچدار بیا (۴۷،۸۶) سلنه رایې وګټلې او په دوهم پړاو ټاکنو کې یې خپل سرسخت سیال ته تاریخي ماتې ورکړه، چې کمال قلیچدار خپله ماتې منلې هم ده، د ښاغلي اردغان دغه بریا یوازې د ترکیې نه، بلکې د ټولو اسلامي هېوادونو بریا بولم، د ترکیې لومړی پړاو ټاکنې د مې میاشتې پر ۱۴مه ترسره شوې، خو هېڅ نوماند له پنځوس سلنه زیاتې رایې پوره نه کړې او ټاکنې دوهم پړاو ته وغځېدې.

د قلیچدار اوغلو ماتې به د ترکیې د ناټو متحدینو ته ماتم وي؛ ځکه،د اردغان او ولادیمیر پوتین د اړیکو له امله اندېښمن شوي دي.له ترکیې سره د امریکا اړیکې په ناټو کې د سویډن د شاملېدو په اړه د اردغان اعتراض او همدارنګه له مسکو سره د انقرې نږدې اړیکې او د سوریې په اړه اختلافاتو له امله خنډنۍ شوې دي.

د دوهم پړاو ولسمشریزو ټاکنو په اړه ګڼ نظرونه موجود وو، ځینو دا ټاکنې د اردغان د بیا بریا او سیالي ډلې بیا د احتمالي ناکامۍ لامل بللې، خو وروستیو نظر پوښتنو وښوده، چې اوسنی حاکم ګوند به له وخته مخکې ټاکنو کې بریالی راووځي؛ ځکه داسې انګېرنې وې، چې که اردغان دا ټاکنې ونه ګټي، دغه هېواد به یو بشپړ بدل وضعیت تجربه کړي او تر ډېره به د سیاسي او اقتصادي بې‌ثباتۍ په لور ولاړ شي.

د ترکیې د ټولو خلکو لپاره دا ډېره مهمه وه، چې اردغان ټاکنې وګټي، آن د نړۍ مسلمانان او ټول ترکان غواړي، چې اردغان د ولسمشر په توګه پاتې وي ځکه پر ترکیه له ۲۰۰۲ کال راهیسې د عدالت او پراختیا ګوند واک ترلاسه کړی، د اسلامي نړۍ د رهبرۍ داعیه مخته وړي او د اسلامي نړۍ په قضیاوو کې مخکښ رول لري. له همدې امله

د اردغان بیا واک ته رسېدل به د اسلامي نړۍ پر وضعیت هم د پام وړ اغېزې ولري. ترکیه به په راتلونکو کلونو کې د لا ډېر اسلام پالي حکومت شاهده وي او د اسلامي نړۍ د مشرتابه رول به یې نور هم غښتلی کړي، چې ښایي له همدې امله یې له غربي نړۍ سره د اړیکو ترینګلتیا لا زیاته شي. دغه راز به په ترکیه کې دا ځل د تېر په پرتله ځواکمن اسلام پالی حکومت جوړ شي. له همدې امله به په افغانستان کې هم خپل رول او نفوذ ته ارزښت ورکړي.

له ټاکنو مخکې نظر پوښتنو ۶۹ کلن اردغان له قلیچدار اوغلو څخه وروسته ښودلی و؛ خو اوس پایلو وښودله، چې ولسمشر اردغان په هېواد کې له اقتصادي ستونزو او لوړ انفلاسیون سره - سره د محافظه کاره رای ورکوونکیو د راټولولو وس هم لري.د شپږو ګوندونو د اتحاد مشر قلیچدار اوغلو ژمنه وکړه، چې په ټاکنو کې به بریا خپله کړي او د اردغان ګوند یې د پایلو په شمېرنه او راپور ورکولو کې پر لاسوهنه تورن کړ. هغه له خپلو پلویانو د زغم غوښتنه وکړه؛ خو دوی د الله په مرسته له ماتې سره مخ شول.

د ترکیې د تېرو دوو لسیزو واکمن ولسمشررجب طیب اردغان له بریا وروسته د یوه سیمه‌ییز پوځي ځواک په توګه بیا هم خپل دریځ پیاوړی کړ.ولسمشر طیب اردغان اوس هڅه کوي، چې د ناټو د ۸۵ میلیونو وګړیو لرونکي هېواد کورنۍ، اقتصادي، امنیتي او بهرنۍ پالیسي بیا جوړه کړي.د هغه دغه پنځه کلنه واکمني به د مخالفانو لپاره یو لوی ګوزار وي؛ ځکه، چې نوموړی یې د دیموکراسۍ پر کمزورۍ کولو تورن کړی، دا هغه تور دی، چې اردغان تل رد کړی دی.ښاغلي اردغان په انقره کې د بریا د وینا پر مهال ژمنه وکړه، چې ټولې شخړې به پرېږدي او د ملي ارزښتونو او خوبونو تر شا به کلک ودرېږي.هغه دغه راز د اپوزېسیون پر غړیو هم نیوکې وکړې او د شواهدو له وړاندې کولو پرته یې د ترهګرو پر ملاتړ کولو تورن کړل. د اردغان پلویانو، چې د هغه د استانبول د استوګنځي مخې ته راټول شوي وو؛ د الله اکبر ناري یې پورته کولې.

# اموي خلافت

عبدالرحمن محمود — — — — — شپږمه برخه

امویون د عمر رضي الله عنه په دور خلافت کې او د معاوية رضي الله عنه میدان ته را وتل.

کله چې حضرت ابوبکرالصدیق رضي الله عنه په دیارلسم کال د هجرت وفات سو ، او د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سره بیعت وشو ، حضرت عمر رضي الله عنه د خپل کمال احتیاط او صلابت او دیانت باوجود ، بنو امیه یي پر خپلو مخکنیو مسئولیتونو پرېښودل، یزید بن ابي سفیان پر دمشق والي و هماغسي بر قراره پاتي شو ، او حضرت معاوية چي د شام مسئول و ، د هغه په مسئولیتونو کې یې نور هم زیادت راوست ، دا ټول د بنو امیه وو له اسلام سره پر وفاء ، تعهد او التزام دلالت کوي.

د حضرت معاوية رضي الله عنه د بخت ستوری د حضرت عمر رضي الله عنه په دور خلافت کې وځلېد ، حضرت عمر رضي الله عنه په پنځلسم کال د هجرت د قيسارية نومي ځای چې په شام کې و د فتح کولو مسئولیت یې ورکړ ، هغه خط چې حضرت عمر رضي الله عنه حضرت معاویه رضي الله تعالی عنه ته لېږلی و دا دی.

"أما بعد فقد وليتك قيسارية فسر إليها واستنصر الله عليهم، وأكثر من قول لا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم، الله ربنا وثقتنا ومولانا فنعم المولى ونعم النصير"

ما تاته د قیسارية مسئولیت درکړي ، د غزاء لپاره ورسه او له الله رب العزت څخه کومک وغواړه او لاحول ولاقوة..... ډېر وایه.

دا مسئولیت ډېر لوی امتحان و پر حضرت معاویه رضي الله عنه باندې ، مګر دی و توانېده چې په ډېرې سترې کامیابۍ سره له دي امتحانه ووځي ، قيسارية یې د اسلام د غازیانو په ملګرتیا لومړي محاصره کړه بیا یې فتح کړه ، د فتح خبر أو خُمس د غنائمو یې و أميرالمؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه ته ولېږه.

بیا یې نور ښارونه هم د الله تعالی په کامل نصرت سره فتح کړل لکه بیروت، صیدا، نابلس، حلب، أنطاکية، بیا له دي غزواتو أو مسلسلو کامیابیو وروسته حضرت عمر رضي الله عنه پر أردن باندې والي و ټاکه ، دا په (۱۷) کال د هجرت.

په (۱۸) کال د هجرت یزید ابن ابي سفيان په عمواس نومي وباء کي وفات سو ، حضرت عمر رضي الله عنه د هغه پر ځای دده وررور حضرت معاوية رضي الله عنه پر دمشق أو بلقاء او بعلبک باندې والي وټاکه ، بعضو کسانو د حضرت عمر رضي الله عنه پر دې ټاکنه باندې اعتراض درلود، ځکه چې حضرت معاویه د عمر په لحاظ کشر و ، تر ده مشران موجود وو، نو حضرت عمر رضي الله عنه د دوی ددې اعتراض په ځواب کې وویل چې تاسې ته د معاويه والي کول عجيب ښکاري ، ما له رسول صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې ده ته یې دا دعاء وکړه "اللهم اجعله هاديا مهديا واهد به"

د حضرت معاوية رض کردار د حضرت عمر رض په دور خلافت کې. نوربیا...

# خلک د پولیو د پېښو ډېرېدو اندېښمن کړي

په ننګرهار کې د پولیو وروستیو مثبتو پېښو او د دغه ویروس چټکې خپرېدا خلک اندېښمن کړي او له روغتیایي چارواکو څخه غواړي، چې د پولیو واکسین په وړاندې مبارزه دې چټکه کړي.

د جلال اباد ښار اوسېدونکي عتیق الله او شرافت د پولیو یا ګوزڼ په برخه کې د شته کمپاینونو پر پلي کېدو هم نیوکه کوي او وايي: له کمپاینونو سره سره لاهم په دغه ولایت کې د ګوزڼ د مثبتو پېښو شمېر درېو ته رسېدلی او وايي: که د پولیو ویروس له منځه ولاړ نه شي، امکان شته ،چې ګڼ نور ماشومان هم د دغه خطرناک ویروس ښکار شي .عتیق الله زیاتوي: (( په ننګرهار کې چې د پولیو مثبتې پېښې زیاتې شوې، خلک زیات اندېښمن دي، ځکه له کمپاینونو سره سره بیا هم د پولیو ویروس مخنیوی ونشو، بیا هم غوښتنه کوو ،چې د پولیو واکسین کمپاینونه دې زیات شي،تر څو د یاد ویروس مخنیوی وشي.))

شرافت زیاته کړه : (( د پولیو ویروس په تازه پېښو سره موږ ډېر اندېښمن یو، ځکه چې پېښې زیاتېږي، نو زموږ د ماشومانو لپاره لوی ګواښ دی.))

د ننګرهار اوسېدونکی هدایت شاه پر ولسي خلکو ټینګار کوي ،چې کورنۍ باید په عام ډول د پولیو واکسین عملي کړي، ترڅو د دې ناروغۍ خطر راکم شي.

هدایت شاه زیاتوي:

(( ما زیاتې کورنۍ لیدلې ،چې خپلو ماشومانو ته واکسین نه کوي او د پولیو رضاکاران په یوه بله بهانه رخصتوي، غوښتنه کوو چې کورنۍ باید د ماشومانو له ژوند سره لوبې ونه کړي او ټولو کورنیو ته په کار ده چې خپل ماشومان واکسین کړي.))

د دغه ولایت یو بل اوسېدونکی عطاخان د پولیو واکسین په برخه کې پر عامه پوهاوي او د پولیو واکسین د کمپاین پر چټکوالي ټینګار کوي.عطاالله خان زیاتوي: (( په روغتیایي برخه کې هم ستونزې شته، ځکه زیاتره واکسیناتوران هغو سیمو ته نه ځي چې ماشومان یې د پولیو واکسینو ته اړتیا لري او یوازې په پاڼو کې لیکنه کوي او لټي او ټمبلي کوي.))

بله خوا روغتیایي چارواکي وايي: تازه په دغه ولایت کې د پولیو یا ګوزڼ درېیمه مثبته پېښه ثبت شوې ده.

د ملګرو ملتونو یا یونیسف ادارې د پولیو برخې د عامه اړیکو مسئول سید کمال شاه وايي: دغه پېښه څه موده وړاندې د ننګرهار د نازیانو ولسوالۍ اړوند (( لنډې جامع جومات کلي)) کې ثبت شوې او یو دوه نیم کلن ماشوم په ګوزڼ یا د پولیو په ویروس اخته شوی دی.

د نوموړي د معلوماتو له مخې په روان ۲۰۲۳ م کال کې په افغانستان کې دا د پولیو درېیمه مثبته پېښه ده چې ننګرهار کې ثبتېږي.سید کمال شاه زیاتوي: (( د ننګرهار په نازیانو ولسوالۍ لنډې جامع جومات کلي کې یو دوه نیم کلن ماشوم د پولیو په ویروس اخته شوی او نمونه یې مثبته شوې ده، چې په دې سره دا درېیمه پېښه شوه. له دې وړاندې په کوټ او بټې کوټ ولسوالیو کې هم د پولیو مثبتې پېښې ثبت شوې وې، د دې لپاره په جون میاشت کې په ختیځه حوزه کې د واکسینو کمپاین پلان شوی، تر څو د پولیو مخنیوی وکړو.))

د نوموړي په خبره، په ختیځه سیمه کې د ګوزڼ د تازه مثبتو پېښو په ثبتېدو سره دغلته ټول له پنځو کلونو کم عمره ماشومان د پولیو ناروغۍ تر ګواښ لاندې دي.

له دې نږدې څو اوونۍ وړاندې د پولیو یوه مثبته پېښه په کوټ، بله یې په بټې کوټ ولسوالیو کې ثبت شوې وه.

دا په ۲۰۲۳ م کال کې درېیمه مثبته پېښه ده چې ننګرهار کې ثبتېږي او په تېر کال کې هم په ټول هیواد کې د پولیو دوه مثبتې پېښې ثبت شوې وې، چې یوه یې په کونړ او بله یې د پکتیا ولایت کې وه.

افغانستان او پاکستان لا هم د نړۍ هغه دوه هیوادونه دي ،چې دغه ناروغي پکې شته او اړتیا ده چې خلک په عام ډول د دې ناروغۍ د مخنیوي په پار واکسین عملي کړي. **ازهر**

# لړ اوربشتونه اود اوبو د کمښت ستونزه

((نوري))



د لړو اوربشتونو له امله کروندګر،او بڼوال ،چې د تېر کال وچکالۍ له امله ور رسېدلي تاوانونه يې زغملي د اوبو دکمښت له ستونزې سره مخ دي.افغانستان يو کرنيز هيواد دی او له اوربشتونو پرته نه شي کولی ډېر کرنيزمحصولات ترلاسه کړي. سره له دې،چې زموږ اقتصاد په کرنه ،اوبو او مالدارۍ پورې تړلی دی، هرکال نږدې تر دوو ميليونو ټنو پورې غله له ګاونډيو او د سيمې له هيوادونو پېرو.د څو کلونو په موده کې چې وچکالي منځ ته راغلې کروندګر، بڼوال او نور خلک يې اغيزمن کړي وو.وچکالي په اوږد مهال کې او لږ اوربښت،چې په خاوره کې د رطوبت د کموالي لامل ګرځي او همدارنګه په بشري،ګياهي او د ځناورو په فعاليتونو کې اختلال راولي. دې ستونزې ته په کتو سره تېر کال زموږ ډېرو کروندګرو، بڼوالو اومالدارانو ته د اوبو د کمښت له امله ډېر تاوانونه واوښتل. ډېرې کرنيزې مځکې ،او بڼونه وچ شول او همداسې ډېر څاروي په دښتو او ورشوګانو کې له منځه ولاړل. دغه بهير د کروندګرو،او بڼوالو پر ژوند اواقتصاد ناوړه اغيزه وکړه او ورسره د اوړو او نورو حبوباتو بيې لوړې شوې؛خو څه موده وروسته د اسلامي امارت د ښو پلانونو په جوړولو سره د لومړنيو موادو بيې په بازارونو کې بېرته را ټيټې شوې.په داسې شرايطو کې،چې زموږ د خلکو اقتصاد کمزوری شوی،خو د اړتيا وړ توکو د پېرلو او ترلاسه کولو له پېټي وتلی شي.له نېکه مرغه،چې په روان کال کې به تر ډېره بريده د وچکالۍ له منفي اغيزوڅخه مخنيوی وشي؛ځکه د هيواد په ډېرو ولايتونو کې په دښتو ، غرونو او رغونو کې واورې و اورېدې،چې تر اوسه پورې

يې د وچکالۍ څخه تر يوې اندازې مخنيوی کړی دی . کرنيزې مځکې به هم پرې خړوبې شي، له بده مرغه،چې له ايران سره په پوله کې زموږ.پراته ولايتونه وچکالۍ اغيزمن کړي او سربېره پر دې يې ستونزې هم راولاړې کړي دي.له وچکالي نه يوازې په افغانستان کې،بلکې د نړۍ په ډېرو هيوادونو کې منځ ته راغلې او که په دې برخه کې ژوره څېړنه ونه شي د ګاونډيو هيوادونو ترمنځ د خپګان او اړيکو د خړوپړو کېدو لامل ګرځېدای شي.د اوبو پوهانو د اوبو د کمښت اصلي لاملونه په دې ډول ښودلي دی: (( د وګړو د شمېر لوړېدل،په کرنه کې له غير علمي لارو کار اخيستل، د اوبوضايع کېدل،د څښاک د اوبو ککړېدل،په هوا او ابو کې بدلون راتلل،په نامناسب زمان کې د باران د اوبو وېشنه)).په افريقايي،آسيايي او د سوېلي امريکا په هيوادونوکې د وچکالۍ ستونزه هم را ولاړه شوې ده.په ځنګلونو کې ډېر ژوي او نور څاروي له منځه تللي او همداسې په ځنګلونو کې اورونه لګېدلي دي،چې د ژوندانه چاپېريال ته يې ډېر تاوانونه اړولي دي.د نړيوالې سروې له مخې په دغو هيوادونو کې د اوبو د کمښت له امله : (( د ناروغيو منځ ته راتلل ،د انسانانو مړينه،د هيوادونو ترمنځ د اوبو پر سر د اړيکو خړپړ تيا، د مرغانو او ځناورو د ژوندانه د سيمو کموالی هم منځ ته راغلی دی.)) په افغانستان کې هم د پخوا په پرتله د وګړو شمېر لوړ شوی او په تېره بيا په کابل کې د ډېرو اوبو د مصرف له امله د اوبو سطحه څو برابره ټيټه شوې ده.اوس په کابل کې کابو له شپږ نيم ميليونو وګړو ډېر کسان ژوند کوي دا په داسې حال کې ده،چې دغه ښار د يونيم ميليونو وګړو د

ژوند کولو توان لري.په تېرو کلونو کې په قلعه چه،خير خانه ، دارالامان او چهلستون سيمو کې په درېو مترو کې اوبه راوتلې؛خواوس د اوبو سطحه ډېره ټيټه شوې او آن په پنځه ويشت متره ژوره کې څاګانې وچې شوي دي.د افغانستان د اوبو رسولوشرکت ويلي: (( د کابل تر ځمکې لاندې د اوبو د زيرمو اندازه د يونيم ميليونو وګړو لپاره بسنه کوي، چې د پنځه ميليونو نورو وګړو لپاره بايد له نورو سيموڅخه او به برابرې شي». څومره،چې واورې او بارانونه واورېږي هغومره په ځمکه کې اوبه جذبېږي او ورسره د څاګانو د اوبو سطحه نه ټيټېږي.په ژمي کې څو ځله واورې واورېدې،چې دغه اورښت د ځمکې لاندې اوبه تقويه کړې؛خو د بارانونو کموالي ستونزې را ولاړې کړې دي.د اوبو رسولوشرکت پلان لري،چې کابل ښاريانو ته د للندر سيند او همدارنګه په شمال کې د آبدرې له سيند څخه دڅښاک اوبه برابرې کړي،چې دا کار لوړه پانګه او څو کاله وخت نيسي.بله ستونزه ،چې د اسلامي امارت په وړاندې پرته ده هغه په کابل او شا او خوا سيمو کې د غير پلاني کورونو جوړېدل دي.هر غير پلاني کور،چې جوړېږي هغه بربېښنا ، اوبو او نورو خدمتونو ته اړتيا لري. په دې کار سره پلاني کورونو ته تاوان پېښېږي.پخوا په هيواد کې امنيتي حالت په ولايتونو کې ښه نه و په ميليونو وګړو کابل ښارته،چې امنيتي حالت په کې ښه و مخه کړې وه او ډېرو يې د غير پلاني کورونو په جوړولو لاس پورې کړ او په دې کار سره په کابل کې د هرکال په تېرېدو سره د څښاک د اوبو سطحه راټيټه شوې. له نېکه مرغه اوس،چې په ټول هيواد کې اسلامي امارت واکمن شوی د

يادو ولايتونو امنيتي وضعيت هم ښه شوی دی؛نو په کار دي،چې درانه هيوادوال په خپلو ولايتونو کې خپل ژوند ته دوام ورکړي،ځکه که کابل ته راشي او د غير پلاني کورونو په جوړولو لاس پورې کړي د نورو هيوادوالو لپاره هم ستونزې جوړولی شي او هم د ژوندانه چاپېريال ککړېږي.د هر کال په تېرېدو سره د اوبو ارزښت لوړېږي آن تر دې،چې په راتلونکو کلونو کې به وچکالۍ هم ډېرې شي . د ناسا مرکز،چې په نړۍ کې يوه اعتبار لرونکې اداره ده ويلي:« لس عربي افريقايي او آسيايي هيوادونه د ايران په شمول د وچکالۍ له خطر سره مخ دي . ايرانيان به په دېرشو راتلونکو کلونو کې د وچکالۍ له امله ژوند ونه شي کړای ،نو خپل ولايتونه به د اقليمي بدلون له امله خوشې کوي او نورو اوبو لرونکو سيمو ته به ځي». افغانستان د څښاک او کرنې د اوبو له پلوه بډای هيواد دی،خو د خپلو اوبو د نه مديريت له امله د وچکالۍ له خطر سره مخ دی.دغه ستونزه له پخوانيو نظامونو راپاتې ده .زموږ اويا سلنه اوبه پرته له ګټې اخيستنې ګاونډيو هيوادونو ته رواني دي.دا بهير د دې حقيقت ښکارندويي کوي،چې زموږ د هايدرو تخنيک او د اوبو د زيرمه کولو برخې دومره فعالې نه دي.موږ د اوبو د ښه مديريت له لارې کولی شو د راتلونکو کلونو د وچکاليو له خطرونو څخه مخنيوی وکړو او خپلې کرنې او مالدارۍ ته وده او پراختيا ورکړو.اوبه زموږ ژوند جوړوي. که اوبه نه وي ژوند ناشونی دی.زموږ وجود له ۶۰ سلنې اوبو څخه جوړ شوی او همداسې د ځمکې دکرې سطحه ۷۱ سلنه اوبو احاطه کړې ده.که موږ خپلې اوبه ښې مديريت کړو، هرو مرو د احتمالي وچکاليو او خطرونو مخنيوی کولی شو. په ژمي کې يوه اندازه واوره واورېده او زموږ د غرونو ،لمنې او خوړونه پرې سپين شول،خو اوس وچکالۍ ځان را ښکاره کړی ،اما بياهم تراوسه پورې له دغو اوبو د کرنې، مالدارۍ او څښاک لپاره ګټه پورته کېږي،کېدای شي له دې وروسته د اوبو اندازه کمه شي. د پخوا په پرتله اوس د اوبو ارزښت مخ په ډېرېدو دی.

۵مخ

# فعالیت وهمکاری های طب عدلی با صحت عامه

**پوهنیارداکتر هدایت الله شیرزاد**

تحقیقات طب عدلی درافغانستان یکی از اجزا مهم خدمات صحت عامه بوده علاوه از کمک های همه جانبه به مقامات عدلی تحقیقی در کشف جرایم و یک سلسله وظایف مهم را در برابر صحت در بالا بردن کیفیت امور وقایوی، معالجوی و مجادله علیه تروماتیزم و تسممات نیز دارا میباشد.طب عدلی با دریافت علل شرایط اشتباهات تشخیص معالجوی که در حین تحقیقات طب عدلی آشکار میگردد در وقایه و بر طرف ساختن آنها با مقامات صحت عامه کمک می نماید. اشکال و انواع اساسی کمک های خدمات طب عدلی به صحت عامه بررسی واقعات طب عدلی در کنفرانس های اناتومی وپتالوژیک نه تنها نقایص کلینیکی بخش رادیولوژی (لابراتوار و غیره) بررسی میگردد. بلکه اسناد طبی نیز بررسی میگردد. هدف این بررسی ها در پهلوی بلند بردن کیفیت فعالیت داکتران رشته های مختلف آشکار نمودن نارسایی های سازمان دهی پروسه معالجوی جهت برطرف ساختن آنها می باشد در کنفرانس های کلینیکی و اناتومیک تمام داکتران موسسه صحی مربوط مکلف اند حاضر باشند از نتایج تحقیقات میتواند جهت بهتر ساختن خدمات وقایوی، معالجوی استفاده نموده مثلاً تحقیقات مرگ های غیر جبری در مورد پرابلم های مرگ ها الی جهت بهتر ساختن خدمات دیس پا نسری مردم استفاده نموده ودیگر اطلاعات را راجع به نقایض کارکرد های معالجوی و تشخیص به مقامات صحت عامه بخش عمده طب عدلی را معاینات متضررین، متهمین، مظنونین در وقایع مختلف تشکیل میدهد. در این تحقیقات متخصص باید درمورد نسایی ولادی، جراحی، تراماتولوژی، عقلی عصبی وغیره معلومات کافی داشته باشد زیرا برای مطالعه دوسیه مرضی کارت پولی کلینیک، رادیوگرافی وغیره اسناد طبی که راجع به مشخصات و حجم کمک طبی معاینه شونده گان که قبل از معاینات طب عدلی انجام داده شده است این معلومات ضروری می باشد به اساس این مطالعات میتوان راجع به نقایض کمک های طبی در پولی کلینیک اتاق عاجل، شفاخانه، همچنین عدم به موقع بستر شدن مریض نقایض معاینات ابتدایی اهمالات و غلطی های را که در حین انتخاب تداوی رخداده پی برد اهمیت بسزای فعالیت های تخصص طب عدلی حین بررسی




واقعات و دوسیه های تخلفات مسلکی کارکنان طبی خصوصاً در موارد اهمالات طبی در کمک به صحت عامه کسب مینماید که در این موارد کمیسیون عدلی طبی به اساس مطالعه اسناد طبی و اظهارات شخص متخلف میتواند فعالیت های پرسونل طبی را بررسی نماید ارقام و معلومات بدست آمده بعد از ارزیابی دقیق اهمالات طبی باید به اطلاع موسسات مربوطه طبی رسانیده شود تا با استفاده از آن تدابیر جهت بلند بردن کیفیت کمک های طبی برای مردم اتخاذ گردد.تشخیص بموقع امراض انتانی و اطلاع آن به مقامات مربوط یک سلسله علایم عمومی موضوع مختص به خود دارد. ولی در بعضی واقعات این اعراض و علایم وصفی نبوده ویا اینکه اصلاً وجود نمی داشته باشد ازین سبب باعث غلطی های تشخیص میگردد که در این واقعات اجساد اشخاصیکه از اثر امراض انتانی فوت نموده اند به طب عدلی راجع میگردد. در صورتی که در حین تحقیقات طب عدلی جسد علایم و شواهدی بدست آید که علت مرگ شخص را از سبب امراض انتانی مدهش نشان بدهد. ( اکسپرت ) تحقیقات طب عدلی تمام تدابیر را به منظوروقایه شیوع این مرض از تمام طرق ممکنه اتخاذ مینماید. راجع به نتایج مقدماتی تحقیقات طب عدلی اکسپرت باید به امر موسسه طبی و مقامات صحت عامه ( به سلسله مراتب ) اطلاع بدهد که در مرحله بعدی تمام تدابیر وقایوی طبق پلان تدابیر ضد اپی دیمیک در ناحیه شهر و حتی مملکت گرفته میشود. در حین تحقیقات اجساد یکه به صورت آنی فوت نموده اند اکسپرت تحقیقات طب عدلی باید همیشه امکانات حصول مرگ را از سبب امراض انتانی خصوصاً امراض مدهش مدنظر داشته باشد تا در صورت موجودیت این نوع امراض تدابیر وقایوی که برای امراض قرنتینی وضع شده بالای پرسونل تطبیق گردد.

**ماء خذ:**

**۱.شیرزاد، هدایت الله**
**۲.عالمی، احسان الله**

# ترویج فرهنگ ترافیکی

**شرف الدین حبیبی**

بحث تنظیم امور ترافیک امروزه یکی از اساسی ترین موارد برای منسوبین پولیس بوده اطمینان از تنظیم جریان ترافیک هدف اصلی هر ارگان و هرمسئول ترافیک است. جریان ترافیک تابع از عوامل زیاد است که آنها شامل نوع کارکرد جاده و ویژگیهای حجم ترافیک می باشد. پیشرفت و تنظیم ترافیک باید با تغییرات روزانه، هفته وار و سالانه تعین شود.

به دنبال رشد سریع صنایع تولید وسایط نقلیه و فراگیرشدن استفاده روزمره از وسایط در طول قرن بیستم به تدریج نظام شهرسازی و جاده سازی در خدمت وسایط قرار گرفت در نتیجه به دلیل استفاده نادرست از وسایط نقلیه و عوامل چون ازدحام ترافیکی و تلفات ناشی از حادثات ترافیکی به یک مسئله ای بزرگ بشری در مقیاس جهانی تبدیل شده، علاوه براین وسایط نقلیه تأثیرات وسیع و عمیقی بر شیوه زندگی اجتماعی و ارزش های فرهنگی و حتی وضع روانی و ذهنی مردم معاصر بوجود آورده که به پیدایش تضادها، نابرابری و تنش های جدید منجر شده است، به ویژه در کشورهای در حال توسعه این پدیده حالت پیچیده تری پیدا کرده است، بنابراین در حال حاضر مسئله وسایط نقلیه و ترافیک فقط یک مشکل فنی و زیست محیطی نیست بلکه یک بحران اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و فضایی در مقیاس جهانی است. هرساله به تعداد وسایط نقلیه در جاده های کشور بخصوص در شهرهای بزرگ افزوده میشود و انتظار میرود که این افزایش در آینده نیز ادامه یابد، افزایش وسایط نقلیه در شهرهای که بستگی به عوامل متعددی مانند رشد جمعیت، اوضاع اجتماعی، اقتصادی، تحولات فرهنگی و چگونگی بهره برداری ازجاده دارد مسائل و مشکلات در بخش ترافیک است که هم اکنون بسیاری از شهرهای افغانستان به آن مواجه هستند. باوجود آنکه سالانه بودجه زیاد صرف ایجاد راه ها و تآسیسات جدید میشود تراکم ترافیک

ص۵

# په هلمند کې د کبانو ۱۰ زره فارمونه فعال دي

کـه څه هم په دې وروسـتیو کې په هلمند کـې وچکالۍ ډېرې برخـې اغېزمنې کړې، خو سـږ بیا په ټـول هیواد او په ځانګړې ډول په هلمند کې له نورو کلونـو د آبادۍ کچه لـوړه ده.په دغـه ولایت کې ډېرو خلکو په دې وروسـتیو کـې د نـورو کاروبارونو تر څنګ د کبانـو روزنې ته هم مخه کړې او په جوړو شویو فارمونو کې سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.په لښکرګاه کې د هلمند سیند پر غاړه د کبانو د روزنې فارمونو تولنـې مرسـتیال عبدالرازق وایي: د پخوا په پرتله اوس په هلمند کې د کبانو فارمونه ډېر شوي ،چې شمېر یې ۱۰زرو ته رسېدلی دی.

دغـه فارمونـه پـه مرکـز لښـکرګاه، مارجـې، نادعلي، ګرشـک، ګرمسـېر او نورو ولسـوالیو کې دي ،چې کبان یې مرکـز او ولسـوالیو ته د خرڅـلاو لپـاره وړل کېږي.

(( خلک راځي، لـه فارمونو څخه د کبانو بچـې وړي، بیا یې پـه خپلـو حوضونو کې سـاتي. کله چې سـتر شي، بیا یې یا نـورو فارمونو ته وړي، یـا یـې مارکېټ تـه وړاندې کـوي.))د کبانو د روزنې فارم لرونکي وایي: د پخوا په پرتله یې کارو بار ښـه شوی، خو د کرنې له ریاست څخه غوښتنه کوي چې د کبانو د خوراکي توکـو برابرېدو او پـه نورو برخو کې یې لاسنیوی وکړي.

حکمت الله او جمعه خان یې په اړه وایـي: (( موږ د کبانو واړه بچیان له پاکسـتان څخه راوړو، خو کـه دولت دلته د کبانـو د روزنې لپاره امکانات برابر کـړي، ګټه بـه یې څو چنده وي.))

(( مخکـې مـوږ د کبانـو د پېرلـو لپـاره ځای نـه درلود، اوس دلته مارکېټ جوړشـوی او هـر څومره ماهیـان چې وي، خرڅېږي.))بلـه خـوا، بیا د هلمند د کرنې ریاسـت د مالدارۍ برخې مدیر شامحمد وایي: مـوږ له ۳۰ څخه نیولې تـر ۴۰ کسـانو تـه د کبانو د روزلو پـه برخه کـې روزنه ورکړې او لا هـم هڅې کوو ،چې خپلو مرسـتو تـه دوام ورکـړو.(( مـوږ د کبانو له فارم لرونکـو سره د خوراکي توکو مرسـته کړې او ۳۰ تنه مو څو ورځې وړاندې د کبانو د روزنې په برخه کې ورروزل او هغوی ته دنده ورکړل شوې ،چې نورو کسـانو ته روزنه ورکـړي.))د هلمند تر څنګ د هیـواد پـه نـورو ولایتونو کې هم په دې وروسـتیو کې د کبانـو د روزنـې فارمونـه ډېر شـوي دي. هیـوادوال په دې نظر دي ،چـې که دولت صنعتي برخې ته پاملرنه ډېره او بنستیز کارونه ترسره کړي، د هېواد په اقتصادي وده کې به ډېر رول ولري.

# په بلخ کې د ۲۰۰۰ معتادینو درملنه شوې



د بلـخ د عامـې روغتیـا ریاسـت مسـئولین وایي، چـې د دغـه ولایـت د سرپرسـت حاجي محمد یوسـف وفا پـه ځانګړې سپارښـتنه او د عامـي روغتیا وزارت او د ولایت د مقام په مـالي همکارۍ په یاد ولایت کې په نشـه یي توکو د روږدو کسانو لپاره په څلورو برخو کې ۱۰۰ بسـتریز روغتونونـه جوړ شـوی، چـې په کې د ماشـومانو او مېرمنو په ګـډون تر دې دمه د ۲زره کسـانو درملنه کړې ده.د دغه ولایت د عامې روغتیا رئیـس ډاکټـر نجیب الله توانا باخـتر آژانـس ته ویلي، چې د افغانسـتان د اسـلامي امارت په راتګ سره د یـادو څلـورو روغتونونـو لګښـت د عامي روغتیـا وزارت او د ولایـت د مقام له لوري ورکول کېږي، خومخکې د نورو موسسـو له لوري ورکـول کېده.توانا زیاته کړه، چـې د عامې روغتیا ریاسـت د ټیم له لوري د بلخ ښار او ټولو ولسوالیو کې تـر دې دمه له نشـه یـي توکو څخه د سـاتنې او لـه اسـتعمال څخه یې د مخنیـوي پـه موخه ۱۶ زره ۶۷۰ کسـانو ته عامه پوهاوي ورکړل شـوي او پـه ۱۴۰۱ کال کـې د یاد ریاسـت له لـوري ۱۳۶۰ کسـان ثبت شـوي، ۹۲۴ کسـان بستر شـوي او د ۱۱۲۵ کسانو درملنه شوې ده.

**ترویج فرهنگ ...**

در جـاده هـا روز بـه روز افزایش میابـد و امـروز در شـهرهای بـزرگ کشـور مـا بخصـوص در شـهر کابـل بـه حـد غیـر قابـل قبـول رسـیده اسـت. ترافیـک کـه امـروزه بـه عنـوان پدیـده اجتماعـی نقـش بسـیار حسـاس ومهـم در کیفیـت و سـاختار اقتصـادی یـک جامعـه ایفـا میکنـد اسـاس زندگـی نویـن انسـان را بـا توجـه بـه نیازهـا و تقاضاهـای جامعـه شـکل میدهـد از ایـن نظـر شـعور و تفکـر انسـان امـروزه بایـد بدانـد کـه در رونـد تکامـل وتوسـعه شـهرها و وسـایل ترافیـک بصورت کـه در برخـی از کشـورها در حـال توسـعه ملاحظـه میشـود بـه کجـا میـرود و اگـر در بکارگیـری و اسـتفاده از اصـول شهرسـازی و ترافیـک غفلـت صـورت گیـرد، زندگـی نسـل هـای آینـده را بامشـکلات بسـیاری مواجـه میسـازد.

روش هـای مدیریـت ترافیـک. روش هـای مختلفـی بـرای طراحـی و اعـمال مدیریـت ترافیـک در شـهرها وجـود دارد. متـداول تریـن ایـن روشـها کـه در یـک طـرح جامـع مدیریـت ترافیکـی شـهری اسـتفاده مـی شـود شـامل مـوارد زیـر اسـت:

در واقـع بـرای اینکـه بتـوان نظـارت فرهنگـی و مدیریـت بـر رفتارهـای ترافیکـی در سـطح شـهر داشـته باشـیم چندیـن پیشـنهاد را بیـان مـی نمائیـم کـه در زمینـه اصـلاح فرهنـگ ترافیـک مؤثـر اسـت

- تدویـن و اسـتمرار دوره هـای آموزشـی فرهنـگ ترافیکـی
- ایجـاد نهـاد هـای آموزشـی در سـطح شـهرها و گنجانیـدن افـراد و اشـخاص مسـلکی در بخـش هـا و حـوزه هـای ترافیکـی.
- تهیـه و تدویـن بـازی هـا و فیلـم هـای آموزشـی درارتبـاط بـا فرهنـگ ترافیـک و نمایـش آن در مـدارس و فضاهـای عمومـی
- گنجانیـدن واحـد درسـی بـه عنـوان نقـش ترافیـک و پیامـد هـای آن در زندگـی روزمـره در مراکـز علمـی و تحصیلـی
- تشـویق و ترغیـب شـهروندان بـه اسـتفاده از وسـایل حمـل و نقـل عمومـی و اختصـاص دادن بودجـه بیشـتر بـه ایـن حـوزه
- آگاهـی دادن بـه شـهروندان نسـبت بـه معضـلات اجتماعـی و روانـی ترافیـک در زندگـی روزمـره از طریـق رسـانه هـا، جرایـد، همایـش هـا، کنفرانـس هـا
- اسـتفاده از ظرفیـت هـای تبلیغـات شـهری جهـت فرهنـگ سـازی ترافیـک
- راه انـدازی شـبکه رادیویـی هماننـد رادیـو پیـام و رادیوشـهر در شـهر کابـل بـرای ارائـه آخریـن اطلاعـات از ترافیـک شـهری
- از طریـق رادیـو پولیـس در طـی یـک برنامـه مشـخص از وضعیـت ترافیـک در هـر نقطـه از شـهر در هرسـاعت بـه شـهروندان اطلاعـات بایـد ارائـه گـردد.
- نظـر سـنجی و کسـب نظریـات شـهروندان دربـاره ترافیـک و ارائـه آخریـن گزارشـات و اطلاعـات در ایـن زمینـه بـه شـهروندان از طریـق رسـانه هـای پـر مخاطـب
- توسـعه زیـر سـاختها و دسترسـی شـهروندان بـه ایـن خدمـات بـرای انجـام فعالیـت هـای روزمـره آمـوزش و رسـانه هـای ارتباطـی بـه عنـوان دو رکـن اساسـی در اصـلاح فرهنـگ ترافیـک نقـش بـارزی در تغییـر نگـرش و باورهـای رفتـاری ترافیکـی دارنـد.

**لړ اورښتونه اود اوبو...**

پوهانـو ویـلي:« د مځکـې د کـرې د تودوخـې درجـه د ګلخانـه یـي ګازاتـو لـه املـه لـوړه شـوې ده.پـه دې کار سره هغـه د یخونـو غرونه،چـې لـه زرهـاو وکلونـو راهیسـې پراتـه وو اوس ورو ورو د سـمندرونو خـوا تـه د رالوېدلـو پـه حـال کـې دي». مـوږ د تلویزیونونـو لـه څپـو دغـه د یـخ د غرونـو سـقوط او لوېـدل وینـو.د وچکالـۍ او د اوبـو د کمښـت سـتونزې تـه پـه کتـو سره بایـد د اوبـو پـه مـصرف کـې لـه سپما کار واخلو.زمـوږ ډېـر هیـواد وال کله،چـې خپلـې کرنیـزې ځمکـې او باغونـه خړوبـوي لـه ډېـرو اوبـو کار اخـلي پـه داسـې حـال کې،چـې دغـه ځمکـې او باغونـه دومـره ډېـرو اوبـو تـه اړتیـا نـه لري.پـه دې کار سره زمـوږ د هغـو کروندګـرو او بڼوالـو هیوادوالـو حـق ضایـع کېږي،چـې پټـي او باغونـه یـې اوبـو تـه اړتیـا لـري.د نـړۍ پـه ټولـو هیوادونـو کـې خلکـو تـه پوهـاوی ورکـول کېږي،چـې لـه اندازې ډېـرې اوبـه مـصرف نـه کړي؛ځکـه پـه اوبـو کـې کمښـت راځـي د نـورو خلکـو حـق ضایـع کېږي.د هیـواد پـه ډېـرو ولایتونـو کـې یـوه انـدازه واورې و اورېـدې . د روان کال پسرلـی ښـه دی ،خـو کېـدای شي د اوړي فصـل پـه را رسـېدو سره د وچکالـۍ سـتونزې ډېـرې شي او زمـوږ کروندګـر او بڼـوال بـه لـه خپلـو ځمکـو او باغونـو څخـه د ډېـر زیارپـه زغملـو سره حاصـلات ترلاسـه کـړای شي.

**د آمو سیند غاړې ...**

چـې پـه دغـې پـروژه کـې ۱۸ زره کسـانو پـه رضاکارانـه ډول کار کاوه. د یادونـې وړ ده، چـې لـه وړانـدې د بلخ پـه شـورتېپې ولسـوالۍ کـې هـم د آمـو سیند غـاړو د ببړنیـو تحکیماتـو چـارې بشـپړې شـوې وې.

**په خوست کې خلک ...**

هـم بدلـون کـوي. یـو دوکانـدار غـلام حسـین عمـري وایـي: دوی توکـي پـه ډالـرو اخـلي، چـې لـه دې کبلـه ښـاروالي باید د کرنسـۍ پـه لوړېـدو سره د توکـو لپـاره هـم بیـې بدلـې کـړي: (( مـال لوړېـږي، ټیټیـږي او دا مالونـه ټـول پـه ډالـرو دي. دوی چـې نرخنامـې توزیـع کـوي، بایـد ژر ژر دې کـې تغیرات راولي، داسـې نـه چـې یـوه نرخنامـه میاشـت یـا تـر دوو میاشـتو پـورې وي، چـې نرخنامـه توزیـع کـوي.)) پـه خوسـت کـې د نرخونـو د کنټـرول کمېسـیون مـشر ثـواب ګل وایـي: د ځینو توکـو نرخونـه چـې لـه کرنسـۍ سره تـړاو لـري، د ورځـې پـه جریـان کـې بدلېـدای شي.

ده زیاتـه کـړه: هغـه دکانـداران چـې لـه ټـاکل شـوې لایحـې سرغړونـه وکـړي، لـه قانونـي چلنـد سره بـه مـخ شي: (( دا نرخنامـه چـې مـوږ ټاکلـې ده، دا د ضرورت پـه خاطـر ده ، ځکـه کـه یـو سـړی څـه اجـراءات کـوي لـه نرخنامـې پرتـه نـه کېږي. تجـار هـم ګـورو، چـې دوی هـم متـضرر نـه وي، دا سي نـه کـوو چـې لـه دوی سره مـوږ زیـاتي کـوو.))

د یادونـې وړ ده چـې پـه تېـره روژه کـې هـم د خوراکـي او غیر خوراکـي توکـو لپـاره بیـې ټـاکل شـوې وې چـې د ولسـونو لـه هـرکلي سره مـخ شـوې، خـو د ځینـو توکـو لپـاره پـر ټـاکل شـویو بیـو ځینـو لـه دې املـه نیوکـې کولـې، چـې پـه وینـا یـې د ښـار لـه عـادي نرخونـو هـم پورتـه وې.

**۷۵۰۰ جریب زمین...**

پولیـس تخـار اضافـه کـرد کـه وزارت زراعـت از کشـاورزان خواسـته تـا بـه جـای کوکنـار زعفـران، هینـگ و درختـان مثمـر کشـت کنند.ایـن در حالـی اسـت کـه طـی سـه مـاه اخیـر هـزاران هکتـار زمیـن از وجـود کشـت کوکنـار در ولایـات مختلـف کشـور پاکسـازی شـده اسـت.

**د بلخ مرکزي روغتون...**

د بلـخ د اطلاعاتـو او فرهنـګ رئیـس مولـوي ذبیـح اللـه نـوراني لـه رسـنیو وغوښـتل، چـې د دغـې ناروغـۍ د مخنیـوي پـه اړه خلکـو تـه معلومـات ورکـړي، چـې د دغـې وژونکـې ناروغـۍ لـه زیانونـو ځانونـه خـبر کـړي. د بلـخ د عامـې روغتیـا ریاسـت چارواکـي د کانګـو تبـې د خپرېـدو پـه اړه اندېښـنه ښرګنـدوي او وایـي، د لـوی اخـتر پـه رارسـېدو سره بـه د څارویـو د پېر او پلـور پـه بازارونـو کـې نـوره ګڼـه ګوڼـه هـم پیـدا شي.

**د ملخانو یرغل او...**

پـر ځـاني تلفاتـو سربېـره، مـالي زیانونـه هـم اړولي دي.پېښـو تـه د رسـېدو پـه چاروکـې د دولـت وزارت ویانـد شـفیعالله رحیمـي وایـي: ((پـه تېـره یـوه میاشـت کـې د هېـواد پـه بېلابېلـو برخـو کـې د سـیلابونو او بارانونـو لـه املـه خلکـو تـه مـالي او ځـاني زیـان اوښـتي دي، چـې ۴۲ تنـه یـې وژلي او ۴۵ تنـه ټپیـان شـوي، ۳۴۱ کورونـه ویجـاړ شـوي او کابـو ۱۹۵۷۳ جریبـه زراعتـي ځمکـه لـه منځـه تللـې ده.))د اقتصـادي چـارو شـنونکي عبدالظهـور مدبـر پـه دې هکلـه وایـي: (( ځمکـه او کاري ځـواک د یـوه هیـواد د اقتصـاد بنسـتیز فکتورونـه دي، چـې سـېلابونه د نـاوړه طبیعـي عواملـو پـه توګـه کـولای شي د هیـواد پـر اقتصـاد پـه خپلـه کچه منفـي او نـاوړه پایلـې ولـري.)) بلـه خـوا، پېښـو تـه د رسـېدو پـه چـارو کـې د دولـت وزارت شـمېرې ښـیي، چـې پـه وروسـتۍ یـوې میاشـت کـې د سـیلابونو د راتلـو لـه املـه ۳۴۱ کورونـه وران شـوي، نـږدې ۲۰ زره جریبه ځمکـه خرابـه شـوې اوڅـه بانـدې ۱۳ زره څـاروي لـه منځـه تلـلي دي.

**د خلکو ستونزې حلول...**

ورتـه مهـال مولـوي عبدالسـلام حنفـي د امنیـت تامیـن، اقتصـادي سـتونزو تـه رسـېدنې او خلکـو تـه د خدمتونـو وړانـدې کـول پـه ملي او سیمه ییـزه کچـه د دولتـي ادارو دنـده وبللـه او زیاتـه یـې کـړه، د اسـلامي امـارت مسـئولین د خپلـو امکاناتـو پـه چـوکاټ کـې خپلـو هیوادوالـو تـه د خدمتونـو وړانـدې کولـو تـه تیـار دی.

**راه اندازی بازار...**

زمینـه سـازی بیشـتر در راسـتای کاریابـی زنـان میباشـد وی میگویـد:(( امـروز مـا توانسـتیم صنایـع دسـتی خـود را کـه لباس، قالیـن وطنـی و دیگـر اشـیاء اسـت، بـه نمایـش بگذاریـم. از اینکـه بـرای مـا اجـازه داده شـده تـا بـرای بـازار خـود را برگـزار کنیـم خوشـحالیم و خواهـان فرصتهـای بیشـتر در زمینـه کاریابـی زنـان میباشـیم.“این زنـان متشـبث درعیـن حـال از امـارت اسـلامی میخواهنـد کـه زمینههـای بازاریابـی ار بـرای تولیـدات آنـان در کشـورهای همسـایه نیـز فراهـم سـازد.از سـویی هـم مسـئولین اداره محلـی ولایـت بادغیـس میگوینـد ،کـه از زنـان متشـبث بـه گونـۀ همـه جانبـه حمایـت میکننـد. مطیعاللـه متقـی، رئیـس اطلاعات و فرهنـگ بادغیـس میگویـد: (( بـرای هرکسـی بـه انـدازه توانـش زمینـه سـازی شـده اسـت. شـما میبینیـد کـه در ایـن مارکـت دکانهـای زیـادی اسـت کـه فروشـندهای آن خانمهـا بـوده و بیشـتر خانمهـا بـرای خریـد بـه اینجـا میآیند.))مسـئولین راهانـدازی ایـن بـازار میگوینـد کـه قـرار اسـت چنیـن بـازاری در دو ولسـوالی دیگـر ولایـت بادغیـس نیـز برگـزار شـود.این در حالیسـت کـه شـمار زیـادی از زنـان متشـبث در بـازار ویـژه و برخـی هـم در خانههـای شـان، مـصروف فعالیتهـای اقتصـادی در بخـش صنایـع دسـتی میباشـند.

**د ۷۲ میګاواټه برېښنا...**

او انـرژۍ وزارت اړونـدو برخـو کـې بـه لـه دوی سره همـکاري وکـړي.د یادونـې وړ ده، چـې څه مـوده مخکـې د اوبـو او انـرژۍ وزارت او د یـاد شرکـت ترمنـځ د ډبـرو سـکرو لـه سرچینـو څخـه د ۷۲ میګاواټـه برېښـنا د تولیـد پـروژې د پـلي کولـو پـه موخـه د همـکاري هوکـړه لیـک لاسـلیک شـوی و..

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۱۰ ۲۵۲۶۳ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب: سایت www:dailies.gov.af/hewad
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰٦۹

سه شنبه د ذوالقعدة الحرام ۱۰ مه ۱٤٤٤ ق کال د ۱٤۰۲ ل کال د غبرګولې ۹ مه د 2023 م کال دمې ۳۰ مه

## مولوي عبدالسلام حنفي:

# د خلکو ستونزې حلول او ورته خدمت کول زموږ دنده ده

د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ورځ مازدیګر د تخار له والي مولوي ضیاء الرحمن مدني سره کتنه کې وویل، چې د خلکو ستونزې حلول او خدمت کول په ملي او سیمه ییزه کچه د دولتي ادارو دنده ده.د ریاست الوزراء مطبوعاتي دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د یادې کتنې پیل کې مولوي ضیاء الرحمن مدني د امنیت، سیمه ییزې حکومتولۍ، اقتصادي وضعیت او د تخار ولایت د خلکو د ستونزو په اړه خپل معلومات وړاندې کړل.



مولوي مدني زیاته کړه: په تخار کې د اسلامي امارت سیمه ییز مسئولین په مختلفو برخو کې خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره شپه او ورځ هڅه کوي.
نوموړي اقتصادي وضعیت او بې کاري د تخار د خلکو او مجاهدینو عمده ستونزې وبللې او د اسلامي امارت له مسئولینو څخه یې دې برخو ته د پاملرنې غوښتنه وکړه.**۵مخ**

# اردغان یو ځل بیا د ترکیې ولسمشریزې ټاکنې وګټلې

د ترکیې د جمهوري ریاست دویم پړاو ټاکنې ورمه ورځ ناوخته پای ته ورسېدې ،چې په کې د دغه هیواد اوسني جمهور رئیس رجب طیب اردغان د دوه پنځوس اعشاریه څوارلس سلنه رایو په ګټلو سره د درېیم ځل لپاره جمهور رئیس وټاکل شو.د ترکیې د ټاکنو د عالي کمېټې مشر ((احمد ییېنر)) ورمه شپه ناوخته اعلان وکړ، چې رجب طیب اردغان دوه پنځوس اعشاریه څوارلس او کمال قلیچدار بیا اووه څلویښت اعشاریه شپږاتیا سلنه رایې ګټلې دي.د نوموړي سیال کمال قلیچدار هم په ترسره شویو ټاکنو کې ماتې منلې او ویلي یې دي ،چې ترکیه به له ډېرو لویو ستونزو سره مخ شي.بل لور ته رجب طیب



اردغان ته د بریا له کبله د نړۍ د ګڼو هیوادونو جمهور رئیسانو او مشرانو مبارکي ویلې ده.د ترکیې د لومړي پړاو ټاکنې د مې میاشتې پر ۱۴مه ترسره شوې، خو هېڅ نوماند له پنځوس سلنه زیاتې رایې پوره نه کړې.

# د ۷۲ میګاواټه برېښنا د تولید چارې پیلېږي

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست ملا عبداللطیف منصور د عوفي مسئولینو سره په پکتیکا کې د ۷۲ میګاواټو په وړتیا د برښنا د تولید



بهرام د کانونو د استخراج او پروسس سوداګریز شرکت له کارخونې د جوړولو د عملي چارو د پیل په اړه خبرې وکړې.دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په یاده کتنه کې نوموړي شرکت د یادې پروژې د عملي چارو د پیل لپاره خپل چمتووالی څرګند کړ او د عملي چارو د پیل لپاره د زمینې چمتو کولو په موخه دواړو لورو د لومړنیو چارو پر چټکتیا ټینګار وکړ.خبرپاڼه کې راغلي، چې د یاد شرکت مسئولینو په افغانستان کې د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې هم د فعالیتونو ترسره کولو لېوالتیا څرګنده کړه او د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست د دوی له لېوالتیا څخه ستاینه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې د اوبو...**۵مخ**

# راه‌اندازی بازار ویژه زنان متشبث در بادغیس

برای نخستین بار بازاری تحت نام ((بازار ویژه زنان متشبث)) به منظور حمایت از صنایع دستی زنان در ولایت بادغیس راه‌اندازی شده است. این بازار به درخواست زنان متشبث، در دو مکان جداگانه راه‌اندازی شده که در آن صنایع و هنرهای دستی زنان بشمول آثار میناتوری، قالین، لباس‌های افغانی و دیگر محصولات در معرض فروش گذاشته شده است.عطیبه توخی، یکی از مسئولین بازار ویژه زنان می‌گوید که، این بازار به منظور حمایت از فعالیت‌های اقتصادی زنان برگزار شده است. (( این بازار برای برقراری ارتباط میان خانم‌هایی که در مارکت تجارتی زنان مشغول استند و



دیگر خانم‌هایی که کار تجارتی می‌کنند، راه‌اندازی شده تا آنان تولیدات شان را برای همدیگر به نمایش گذاشته و از محصولات یکدیگر آگاه شوند.))در همین حال شماری از زنان متشبث از راه‌اندازی این بازار استقبال کرده و محصولات شان را در این بازار در معرض فروش گذاشته‌اند.راحله شیرزی، یکی از زنان متشبث می‌گوید: (( فعلاً روحیه خانم‌ها خوب شده و خریداری هم خیلی خوب است. خرسندیم که زمینهٔ فروش تولیدات ما در این بازار فراهم شده است. اگر از ما حمایت شود خوشحال خواهیم شد.)) شبنم احمدی، یکی دیگر از زنان متشبث خواهان ...**۵مخ**

# په هرات کې کروندګرو ته ۳۶۰۰ صندوقه د وریښمو چینجي وېشل شوي

د هرات د کرنې او مالدارۍ ریاست ویلي، چې په روان کال کې یې د وریښمو شاوخوا ۳۶۰۰ صندوقه چینجي کروندګرو ته وېشلي، چې سږ کال یې پایلو ته ډېرې هیلې شته. دا مهال د وریښمو د چینجیو د محصول یا د وریښمو تار د را ټولولو وخت دی. سږ کال د وریښمو د چینجیو څه باندې دري زره صندوقونه په زنده جان، انجیل، ګذرې او پښتون زرغون ولسوالیو کې بزګرانو ته وېشل شوي دي. د هرات د کرنې او مالدارۍ ریاست د ترویج او مالدارۍ عمومي رئیس وایي، چې ۸۰ په سلو کې د وریښمو د چنجیو پالنه په زنده جان ولسوالۍ کې ترسره کېږي.

# د تخار د سردشت کانال د جوړولو چارې ۹۰ سلنه پرمخ تللي

د تالقانو د سینډیزې فرعي حوزې رئیس مولانا صبغت الله قانع د یاد ریاست د یو شمېر مسئولینو او د (SFI ) دفتر د تخنیکي ټیم په ملتیا د تخار ولایت په ورسج ولسوالۍ کې د سردشت کانال د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه.
د یادې پروژې چارې د نهه ویشت میلیونه، یو سلو پنځه نوي زره ، شپږسوه او څلور دیرش افغانیو (۲۹۱۹۵٦۳٤) په ارزښت د (WFP) په مالي ملاتړ د تالقان سینډیزې فرعي حوزې تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي او چارې یې ۹۰ سلنه بشپړې شوې دي.په نوموړې پروژه کې د سلګونو کسانو لپاره د کار زمینه چمتو شوې او د چارو په بشپړېدو



سره به یې د سلګونو کورنیو د څښاک او کرنېزو اوبو ستونزه هواره شي.

# د بلخ مرکزي روغتون کې د کانګو ناروغۍ له کبله دوه تنه مړه شوي

د بلخ ولایت روغتیایي مسئولین وایي: له تېرې یوې اوونۍ را په دې خوا په دې ولایت کې پر کانګو ناروغۍ اخته دوه کسان مړه شوي دي.د بلخ د عامې روغتیا رئیس په خلکو کې د دغې ناروغۍ د خپرېدو په اړه د اندېښنې پر څرګندولو ویلي، چې په تېره یوه اوونۍ کې د دغې ناروغۍ لس مثبتې پېښې ثبت شوې دي.
د دې ولایت د عامې روغتیا رئیس نجیب الله توانا د کانګو تبې په وړاندې د همغږۍ په غونډه کې وویل، چې تر اوسه پر دې ناروغۍ دوه کسان مړه شوي دي.
د بلخ ولایت د پنځه سوه بستریز روغتون رئیس ډاکتر نبي الله امیري ویلي: دغه ناروغي خطرناکه او وژونکې ده او له هیوادوالو یې غوښتي، چې له څارویو سره له اړیکو ډډه وکړي.دغه راز د بلخ سیمه‌ییزو چارواکو له رسنیو



او د دغه ولایت د حج او اوقافو له ریاست څخه غوښتي، چې د عامې روغتیا ریاست سره دې د خبرتیا په برخه کې مرسته او همکاري وکړي.د بلخ ولایت د کورنیو غړې، چې خپلوان یې پېدې ناروغۍ اخته شوي، له نورو ښاریانو غوښتنه کوي، چې د ډاکترانو لارښوونې دې جدي ونیسي.**۵مخ**

# په کندهار کې له راستنو شویو کډوالو سره مرسته شوې

د کډوالو نړیوال سازمان په کندهار کې له یو شمېر بېرته راستنو شویو افغان کډوالو سره د مرستې خبر ورکړی. له یاد سازمان څخه په خپره شوي



خبرپاڼه کې راغلي، چې د روان کال له مې میاشتې راهیسې یې په کندهار کې اووه زره او ۳٦ راستنو شویو کډوالو ته مرستې رسولې دي.په خبرپاڼه کې راغلي، راستنېدونکي افغانان د کډوالۍ له کبله له زیانمنو شویو ډلو څخه ګڼل کېږي.د کډوالو نړیوال سازمان دا خبره په داسې حال کې وکړې ،چې ورمه ورځ د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست هم له نړیوالو مرستندویو ادارو غوښتې وو ،چې له افغان کډوالو سره بنسټیزې مرستې وکړي.

# د ننګرهار اوسېدونکي د چرګانو غوښې د بیې له لوړوالي شکایت کوي

د ننګرهار یو شمېر اوسېدونکي وایي: له تېرو دوو میاشتو راهیسې په دغه ولایت کې د چرګانو د غوښې بیه لوړه شوې ده. دوی زیاتوي، د چرګانو د یوې کیلو غوښې بیه له ۱۵۰ افغانیو څه باندې ۲۰۰ افغانیو ته لوړه شوې او په وینا یې ډېر خلک یې د پېرلو وس نه لري. د چرګانو د غوښې څینې پلورونکي د بیې د لوړېدو لامل دکورنیو تولیداتو کمښت بولي، خو ځایي مسئولین بیا د دې ستونزې د ژر تر ژره هواري ډاډ ورکوي.



# په سوډان کې د اوربند د غځېدو غوښتنه

په داسې حال کې چې ورمه ورځ په سوډان کې د دواړو لورو ترمنځ شوي اوربند پای ته رسېدلی، تازه سعودي عربستان او امریکا د یاد اوربند د غځېدو غوښتنه کړې. دواړو هیوادونو په ګډه اعلامیه کې ویلي ،چې د اوربند غځول به د سوډان د خلکو لپاره د بېړنیو بشري مرستو رسول آسانه کړي. په اعلامیه کې د جګړې پر دواړو لورو غږ شوی، چې خبرې دې روانې وساتي، ترڅو د اوربند د غځولو هوکړې ته ورسېږي.



تېره اوونۍ د امریکا او سعودي په منځګړیتوب د یادې جګړې ښکېلو لورو د یوې اوونۍ لپاره اوربند وکړ، خو له اوربند سره سره په پایتخت خرطوم او یو شمېر نورو سیمو کې د جګړې خبرونه ورکول کېدل.په سوډان کې د پوځ او ملېشه ځواک ترمنځ له شاوخوا شپږو اوونیو راهیسې نښتې پیل شوې ،چې له کبله یې سلګونه کسان وژل شوي دي.